مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نورمحمد لاهو

۲۰۲۳/۰۹/۲۳

# نیمه شپه ده

یو سږی دی
داسي غږ يې له سينې راپورته کيږي
ته به وايې په ډبرې باندې شرنګ شرنګ
د کړکۍ شيشې رالويږي
نیمه شپه ده آسمان وریځ دی
یو ځوځاځکي د سرو وینو
لکه څو تک سره خالونه
د یو چا د کور په بام باندې څلیږي
د شپیلۍ غوندی زګیروی دی
دوه کوترې
له یو بله جلا کیږي
\+ + + + +
یو ځراغ دی
په سکرو يې رڼا ګانې تورې شوي
هلته ليرې يو څوک ښکاري
په لمن يې نسترن ګلان شنه کيږي
ښکلې غږ يې
د سپوږمۍ غوندې څليږي




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ